**د تونس ولایه کمپاین: «له الله سبحانه وتعالی پرته څوک غوره حکم کوي»**




په دې ورځو کې تونس په یو سخت پړاو کې راګیر دی. د یاد هېواد حکامو پر خپلو ساده رولونو (نقشونو) سترګې پټې او د خپلو اقتصادي، مالي او ټولنیزو سیاستونو ټاکنه یې ښکېلاکګرو هېوادونو، د پیسو په نړیوال صندوق او په اروپایي ټولنه کې خپلو کارکوونکو ته وسپارله. د دغه سخت حالت پر وړاندې، چې د دې خاورې سیاسي حالت ورسره مخ دی او د دې خاورې شته ګوندونه د دې پر ځای چې د امت چارو ته پام وکړي، پر خپلو کورنیو شخړو بوخت دي. همداراز له حاکمو نظامونو او فرصت غوښتونکو ګوندونو څخه د خلکو کرکه د ښاروالۍ په وروستیو ټاکنو کې په ښکاره لیدل کېږي. موږ د حزب تحریر- ولایه تونس خلکو ته اعلانوو چې د امت د ستونزو د بنسټیز حل، د ښکېلاک او غلامۍ له ټولو ډولونو څخه د امت ازادولو او د سیاسي فکر د ښوونې لپاره سیاسي کمپاین پیلوو؛ چې هغه د اسلام او شرعي احکامو پر بنسټ په حکومتدارۍ، اقتصاد او ټولنه کې د سیاسي نظام بیا تاسیس دی.

دغه نوي کمپاین ته مو د (وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْماً) یعنې له الله پرته څوک غوره حکم کوي، سرلیک ټاکلی دی. د الله سبحانه وتعالی په مرسته به څو اونۍ دوام وکړي او د بنسټیز بدلون په رامنځته کېدو کې به د اسلام د نظام وړتیا وښیي. له رب العالمین څخه، له ظالمانو او د ښکېلاک له استازو څخه د ازادۍ غوښتنه کوو او همداراز په هغه نظام کې په پټ او عزت سره ژوند کول غواړو چې د امت د عقیدې او تمدن استازیتوب وکړي او په حاکم انتخاب کې د امت حق تضمین کړي.

**حمزه "پارسا"**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**